سراج الحق ببرک زی خُدرانِ ۲۰۱۲/۰۷/۲۵

د پښتون ولس

او افغان ملي دولتونو ترمنځ د ډيورنډ استعماري سره کرښه

(دريمه برخه)

۱۰. دافغانستان ملي دولتونه او د ډيورنډتحميلي غيري فطري کرښه

ملي دولت:

کله چې يوه ډله خلک يوسياسي ارګانيزيشن له دريو ټاکل شويوعنصروځخه دولتي ولس، دولتي ځمکني بشپړتيا، دريګوني ځواک او ځلورم عنصر خپلواکی هم ورګډيږي رامنځته کړي، يوملي دولت پيژندل کيږي.

۱. ملي دولت بايديودولت وړونکي خپلواک ولس يا ملت ولري او د هيوادنوم دهمدې سترولس په نوم نومول شوي وي. دغه ملت بايدپه هيواد کي يواځيني مشروع سياسي ولسواک او يوموټي ځواک وي. دولتي ولس په هيواد کي بايد خپله سياسي، قانوني، ټولنيزه او کولتوري ملي واکمني ولري. دولتي ولس بايدپه هيواد کي ټولو ميشتو وګړو ته خپل ملي پيژنداو ملي هويت ورکړي وي.

کله چې د دولتي ولس يوه برخه دملي دولت له ملي واکمني څخه بهر اوسيږي، دغه ولسي برخه د خپل ملي دولت سره ځانګړي مثبتي اړيکي لري. کله چې ددولت وړونکي ولس يوه برخه دملي دولت څخه استعمار ي ځواکونو په زور او ظلم سره بيله کړي وي اودملي دولت دولت وړونکي ولس موخه داوي چې دخپل تاريخي پلارني هيواد خاوره او دخپل محکوم دولتي ولس له لاسه وتلي برخه بيرته د خپل ملي دولت سره يوځای کول وي،لکه دانګريزانو، روسانو بنکيلاګګرو ځواکونود لويې لوبې په ترڅ کې دپښتون يوموټي دولتي ولس پر وجود دخپلوګټولپاره د ډيورنډ استعماري تحميلي غيري فطري کرښه ويستله. دی حالت لپاره ايټاليوي توري

ايرردنټه مانا :(ملي لړکي دملي دولت نه بيلودونکي برخه ده) استعماليږي. Irredente

۲ . دولت بايد خپل ملي ځمکنی بشپړتيا ولري،ددولت پولې بايد دولتونو لخوا په نړيواله کچه په رسميت پيژندلي شوي وي .

۳ . ددولت په خاوره کي بايد ددولت درېګوني ځواک په مکمله توګه ملي حاکميت ولري. د دولتي ولس ټول غړي بايد ديوګډ، يوموټي، واحد، خپلواک او ويښ ولس په څير ځان احساس کړي.

د اسيا په زړه کي لوی افغانستان د خپل جيوپولتيک او جيو ستراتيجک خورا مهم پوځي حساس موقعيت له امله پښتانه افغانان دې ته مجبور کړل شوي چې د نړۍ له يرغلګر وزبرځواکونوسره د نړۍ جنګي تاريخ و ليکي. د نړۍ او دلوی افغانستان په تاريخونوکي پښتانه د افغان ملي دولتونو ددولتي ولس په ځير پيژندل شوي دي. پښتونه يواځي خپل نوم دې هيواد ته ورکړي، بلکې پښتنو د افغانستان د ملي دولتونو په تاريخ کي د افغان ملي دولتونو واګي اوستني پر خپلو اوږو وړي او په دغه لار کي دوی سترې قرباني ورکړي دي. افغانستان کي پښتانه افغانان په تاريخي ډول ځانونه د دولت جوړوونکي ولس په ځير مسوول احساسوي . په دوی کي ملي خپلواکی،ملي ګټې،ملي يوالي،ملي ويښ احساس ،هيوادپالنه او دملي هويت ارزښتونه ځښت ډير ځواکمن دي. د پښتنو لخوا تل د افغان ملي دولتونو ملي ايديالوجی ليکل کيږي. د افغانستان دملي دولتونو ملي ايديالوجی او ترمينالوجی تل په دې لټه اوهڅه کې ده،چې ټول لراوبر پښتانه افغانان د يو واحد خپلواک لوی افغانستان په ملي مرکزي دولتي اداري چوکاټ کي سره بيا يوموټي کړي. په پاکستان کي دافغانستان ملي لړکي يا پښتانه په سلو کي ۱۳ برخې دي. نن د لراوبر هر پښتون اوهره پښتانه پوهيږي چې لوی افغانستان دټولولر اوبر پښتنوافغانانو پلارني تاريخي ګډ هيواد دی، لراوبر يو افغان دی.

افغان ملي دولتونو د افغانستان خاوره پښتونستان او د خپل دولتي ولس ترمنځ ډيورنډ کرکيچني کرښې له امله دپاکستان پنجابي پوځي، دانګريز ميراث خواره رژيمونو په وړاندې په ۱۹۵۵، ۱۹۶۱، ۱۹۷۷ او ۱۹۷۸ کالونو کي د وسله والي جګړې کرښې ته مخامخ شوي دي.

په ۱۹۴۹ کال کي دافغانستان شاهي ملي دولت لويه جرګې د ډيورنډ خونړي کرښه د نړيوالو قوانينو په چوکاټ کي له منځه تللي اعلان کړي ده . دافغانستان دملي دولتونو او دهيڅ يو ريښتيني پښتون لخوا دغه خونړي انګريزي کرښه په رسميت پيژندل شوي نه ده .

په ۱۹۵۵ کال کي د افغانستان پاچا د ملت بابا مرحوم اعليضرت محمد ظاهر شاه دافغانستان سره د پښتونستان يوځای کيدولو فيصله وکړه. افغان ملي دولتونو دهمدې تاريخي، سياسي، قومي، مذهبي اوکولتوري منل شويو اوصلو او ارزښتنو پربنسټ پښتونخوا کي دخپل ملي دولت دولت وړوونکو وګړو سره د قومي وروګلوي بنې اړيکي ساتلي او

افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د افغان ملي دولتونو پلازمېنه کابل کې دېښتونخوا يا د پښتونستان وتلي مخورو پښتانه ملتپال سياستوالو ته د دوی په خپل پلارني خپلواک هيواد افغانستان کې دېښتودبيا يووالي مبارز ي لپاره ځای ورکړي وو.
په ډيره خواشيني سره بايد وويل شي، د پاکستان استعماري پوځي يرغلګرو رژيمونو په پرتله د افغان ملي دولتونو لخوا پښتونخوا ته، دستر پښتون افغان ولس ستري برخه ته، ددېورنډ خونړي کرښې اوسني خونړي کرکيچونوعواقبو ته او دېيښور ستراتيجک ښارته ډير لږ ارزښت ورکړل شوي دی. د لر اوبر پښتنو سياسي، قومي مشرانو، پوهانو د ډيورنډ کرښې نړيوالي کړکيچني مسئلې ته د لږ پاملرني له امله، نن ستر پښتون ولس ديرغلګرو دنا پايه جګړو په اورکې سوزځي، سيمې کې دخونړيوکړکيچونوسره لاس اوګريوان شوي دي. افغان وژل کيږي، دافغان وينه تويږي، د افغان کور ورانيږي، افغان وړې تړې، بې حقوقه درپه دره په خپل هيواد کې لاهاند سرګردانه ګرځي، دخپلو د حقوقو د پښتني ځای نشته اوددغې ناروا جګړې ګټې نور اخلي. دافغانستان د راتلونکي ملي مرکزي دولتونو ستراتيجي بايد د نړيوالي ټولنې پام دې مهمې نړيوالي مسئلې ته راوګرځوي.
د افغانستان ملي دولتونو تر اوسه د ډيورنډکرکيچني کرښې په اړه د نړيوالو قوانينو په چوکاټ کې ټولو ته يوه منل شوي دسوليزه حل نړيواله ټګلاره او داوږدمهاله کړکيچ دحل لپاره ملي ستراتيجي نه ده وړاندې کړي. دشهيد سردار محمد داود خان خپلواک ملي دولت ته روس پلوه پوځي کودتا چيانوموقع ورنه کړه، چې د ډيورنډ کرښې په اړه په نړيوالو اړونو، قوانينو برابره ملي ستراتيجي او افغان ولس ته د پښتنو دبيا يوالي لپاره يوعملي ميکانيزم وړاندې کړي. ترڅو ددې ملي ستراتيجي له لارې د لراو بر افغان ولس تاريخي بيا يوالي رامنځته شي.
دافغانستان د ورستيو دري ديرشو کالونو ګوداګي رژيمونه د جګړو له امله اصلاً د لوی افغانستان د بيا يوالي فکر په سر کې نه درلود،دغه پردېپاله رژيمونه د روسي کمونيزم، د برتانوي پاکستان دپوځ، د ای ايس ای شبکو او دامريکايي ښکيلاکګر پوځونولاسپوڅي کمزوري، ګوډاګي، کاغذي بې بنسټه ملي ضد رژيمونه وو. دغه درېواړه ډول ډول ايديالوجيک مزدور رژيمونو دپښتون افغان ولس په وينو تويولو، بربادي او ويشلو کې هم سترە وندە اخيستي ده . دغه رژيمونه د افغانستان په محاصر تاريخ کې ملي ضد رژيمونو نه تير شوي دي . د دغو ګوداګي رژيمونو کاڼه، راندە او ګونګ مشرانو خپل لراوبر پښتون افغان ولس ديرغلګر هيوادونه سره ترننه په خونړيو جګړو کې راګير کړي دی.
د افغانستان راتلونکي ملي دولتونه مجبور دي، خپلې له لاسه وتلي تاريخي خاوری د بيرته ترلاسه کولو لپاره خپل ايږردنټ فعال سياست او پاليسي په ازاده قبايلي سيمه، پښتونخوا کې له سره د اوسنيو شرايطو په رنا کې نوي پيل کړي. د افغانستان راتلوونکي ملي دولتونه مجبور دي، ددېورنډ کرښې کړکيچ د خپلې ملي اجنډا په سرکې وليکي او خپل يږردنټ سياست يا دبيا يوالي فعال سياست د ډيورنډ کرښې رسمي ټولولو ستراتيجکي پلان دسيمې له حالاتوسره نوي سمبال کړي . ځکه دلوی افغانستان تل پاتي سولې، اثبات او د پښتنو دنيکمرغي، خپلواکی لاره د همدې خونړي ګواښمن کرکيچ له لارې تيريږي. افغانستان کې تلپاتي سوله ثبات د دې کرښې په شتون کې ناشوني ښکاري. په سيمه کې د پښتون ضد قوتونو تل دهمدې لارې د افغان ملي دولتونو بې ثباته کولو اوکمزوره کولو هڅه کوي.

له يوې خوا نن ډير افغان سياسي کارپون په دې اند دي، دملي دولت دنشتون، د افغانستان بې ثباته حالت، ماتيدونکي رژيمونو،جګړيزوحالاتو او دپوځي کمزوريو له امله د ډيورنډ کرښې نړيواله مسئلې د راپورتکولو وخت نه دی. له بلې خوا ډير پوه افغانانو وينې، چې د ډيورنډ کرښې په دواړو غاړوکې د انګريزي کرښې دکړکيچ دنه حل کيدو له امله نن د بې ګنا ه افغانانو وژنه ،دپښتنو قومي وژنه يا ژنوسايد او ورسره د پښتنو وسله وال مقاومت روانه دی.

له يوه لوري افغان ملي دولتونه په لر او بر پښتنو افغانانوکې د پښتونستان په مسئله يا د ډيورنډ کرښې په رسمي ډول ټولولو کې غورځنګ جوړونکي ځواک ښکاري. له بل لوري د پنجاب پوځيان خپله ستراتيجکي ليوالتيا او اغيزه داسلام په نامه د افغانستان په کورنۍ سياست او ګوډاګي رژيمونوپه وړاندې جګړه اود ګوډاګي رژيمونو په راوستو کې ځرګندوي.

پاکستان دجوړيدو راهيسې د افغانستان لپاره خپله ستراتيجکه ژوره لري. ظاهراً تر ننه په پاکستان کې دا ويل کيږي، چې د هند سره د جګړې پر مهال افغانستان به دوی د خپلو پوځونو د يو پټناځاي په ځير وکار وي او پاکستان به همزمان په دوو جبهو او جګړو کې د افغانستان او هند سره بوخت نشي.

په اصل کې پاکستان دخپل ستر زورور مشر وروروهندوستان څخه دومره نه ويريږي، لکه د ډيورنډکرښې لمنځه تللو څخه ويره لري. د اسلام اباد واکداران په دې پوهيږي چې ډيورنډ د کرښې د ټوليدو سره په نړۍ کې د پاکستان شتون لمنځه ځي. افغانستان کې د پاکستان پوځي بريدونو، سياسي لاسوهنې اوتوغندیو او توپچي بريدونو يواځيني

افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

لامل د ډیورنډ کرښې څخه د فاع کول دي . په حقیقت کې دا د پنجاب ورستي سلګي دي. د نړۍ جګړیزو تجربو مور ته دابنودلي ده، چې پوځي بریدونه د خپلو ګټو څخه بهترینه دفاع ده.

له همدي املې دپاکستان پوځیان د ډیورند کرښې په دواړو غاړو کې پښتانه افغانان په بیل بیل نومونوسره جنګوي. اسلام اباد د همدي هڅې له لارې غواړي، په کابل کې د خپلې خوښې ګوډاګي کمزوري رژیم واک ته ورسوي. پاکستان په افغانستان کې د افغانانوملي دولت رامنځته کیدو مخه نیسي، تر څو د افغان ملي دولت د پاکستان سره د ډیورنډ لاین مسئله بیا را پورته نه کړي او د کرښې دبلې غاړې دپښتنو دیووالي هڅې بیا پیل نه کړي. پاکستان د همدې ټولویادوشویو ټکو له لارې هڅه کوي دپښتنو یوالي او د افغان ملي دولت رامنځته کیدولو مخه ونیسي.

پاکستان د خپلو ستراتیجکو پلانو عملي کولو لپاره په پوځ او استخباراتو کې اکثراً دپښتونخوا یو شمیر پښتانه ګمارل شوي دي .دوی د پنجابیانو سره یوځای په افغانستان کې دبې ثباتي، بدامني او ورانکارو عملیاتو لپاره مستقیماً داسلام اباد له مشرانو څخه اوامر و ترلاسه کوي. د غو پښتنو په افغانستان کې د پنجابیانو پلانونو او د ای ایس ای استخباراتي شبکې کار ډیر اسانه کړي ، ښه بیلګه یې د طالبانو درژیم پرمهال وه. د ای ایس ای افسرانو طالبانو ته له همدې لار ې سپارښتنې او مشوري ورکولې.

له یوي خوا د پنجاب پوځي ډیکتاتوري رژیمونو یوشمیر ړون اندې بې هویته پښتانه په خپل پوځ، د ای ایس ای په استخباراتي شبکو ګمارلي او د پاکستان د فاع شورا په نامه یو شمیر مذهبي ګوندونه او تنظیمونه دپښتنو جنګولو، ویشلو،دپښتنو دبیا یوالي ملي احساسات کنټرولو او د افغانستان د پښتنو په اسلامي ډلو باندې اغیزې لرلو لپاره رامنځ ته کړي دي.

له بله پلوه دافغانستان حکومتونو د دریو لسیزو دجګړو له امله د پښتنو ملټپالو،سیاسي فعالینو، خپلواکۍ غوښتو نوونکي مشرانو او مدني ټولنو سره دبیا یوالي اړیکې شلولي دي. دغې حالت د افغان راتلونکي ملي دولتونو فعال سیاست او پالیسي د ډیورنډ کرښې په اړه له سترو چلنجونو سره مخامخ کوي.

ټول خپلواک ملي افغانان پښتانه په یوه خوله پوهیږي چې اسلام اباد د دوی د ملټپالني،پښتني هویت او د ملي یوالي احساسات نه نشي زغملي. د ایران شیعه رژیم او دپنجاب تور پوځیان افغانستان کې د پښتنو خپلواک ملي دولت رامنځته کیدل نشي منلي .
لوی الله (ج) دپښتون ویشلي ولس یې د دوو منافقو اوخبیثو ګاونډیانو تر منځ رایسار کړي دی .د تاریخ په بهیرکې پنجابیان پټانان پیژني او ایرانیان افغانان پیژني .په دغه حالت کې به خدای (ج) له پښتنو څخه ازموینه اخلي. دوښمن پوهیږي چې پښتنوته ډیر وخت پاتې نه دی چې دوی خپل خپلواکه ملي دولت او ملي یوالي بیا رامنځته کړي.
پاکستان په افغانستان کې د هغوپښتنو واکمني را وستل غواړي چې په دوی کې د پښتونپالني، هیواد پالني او ملټپالني ملي احساس وژل شوي وي . پاکستان هڅه کوي له همدې لارې په افغانستان کې دپښتنو واک او دریځ پخه کړي ، د پښتنو لرغوني ملي هویت ،کولتور ارزښتونه له منځه یوسي او د ډیورنډ د دواړو غاړو طالبان تل د پاکستان د لاس سیاسي اله وي . په پاکستان کې پښتون هڅې محکوم دی، اوس خپلواکه ملي مسلمان پښتون ترهګر او مجرم دی!

۱۱. دافغانستان راتلونکي ملي دولتونو بهرني سیاست

د افغانستان دراتلونکي ملي دولتونه د خپل کورنۍ او بهرني سیاست اجنډا په سرکې د افغان ولس ولسي ملي بنسټیزو ستونزو دحل لارې باید جوتې ولیکي او د افغان ولس له ملي ارادې او ملي داعیه څخه باید په نیغه دفاع وشي. افغان ملي دولت بایدد ملګرو ملتونو او خپلو ستراتیژیکو ملګرو هېوادونو له لارې د دې مسئلې د هوارې هڅه وکړي. د لر اوبر افغان دبیا یوالي لپاره په نړیواله کچه یوه ملي ستراتیجۍ وړاندې کړي.
افغان راتلونکي ملي دولتونه دپرله پسې جګړیزو ناورینونو او دکورنیو،بهرنیوکړکیچونو،ستونزو سره سره باید دومره ظرفیت او توان په ځان کې ومومي ،چې د ډیورنډ کرښې یا د پښتونستان نړیوالي مسئلې دحل اړین سیاسي توکي، ثبوتونه اوفرصتونو په نړیواله کچه د نړیوالو قوانینو په رڼا کې مطرح کړي . همدې ملي ارمان لپاره همدا نن باید دلراوبر د حجرې، جومات او پوهنتون ټول پښتانه افغانان پرته له سیاسي ګوندي، ایدیالوجکي ډله بندیو څخه ددې بنسټیزې ملي ستونزې په اړه د راتلوونکي نسلونو،د خپل مظلوم افغان ماشوم د نیکمرغي سوکالي او بقا لپاره باید په یوخوله شي. دافغانستان پښتانه باید دپښتونخوا، کوټې او د قبایلي سیمومشرانو، د پښتنو ملټپالو مخورو ملي اعتباري مشرانو ته د وروړګلوي لاس ور اوږد کړي او د کابل مرکز ملي حکومت باید د دې سیمو له وګړو سره سیاسي ، کولتوري اوټولنیزې اړیکې رسماً نوره پیاوړې کړي.

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د ډيورنډ نړيوالي مسئلي حل دافغانستان دجګړې پای دی ، د افغانستان د ملي حاکميت، ملي امنيت اوځمکنۍ بشپړتيا ،دسيمې هيوادنو او د نړيوال امنيت سوله اوثبات د ټينګښت لپاره خورا مهمه مسله ده. د ډيورنډکرښې لمنځه تلل سره به د کرښې له دواړو خوا څخه د القاعدې او ور پورې تړلې ډلو او دنه بلل شويو ميلمنو په ايستلو کې ستر رول لوبوي شي.
د افغانستان د راتلونکي ملي دولتونو دنده ده، د ډيورند کرښې کړکيچ دحل په اړه د پاکستان سره د سوليزه حل خبرې اترو ته کيني ، دنړيوالې ټولنې او ملګروملتو پام د ډيورنډ ايديالوجکی ،ستراتيجکي استعماري توري کرښې د ټولېدو په اړه رسمآ راوګرځوي. ځومودې مخکې د افغانستان، پاکستان او بريتانيا دري اړخيزې غونډې ترسره شوه، افغان ملي دولت به خامخا په غونډه کې ددډيورنډ کرښه کړکيچ مطرح کړي وي.

افغانستان د خپل جيو ستراتيجکي تاريخي موقيت له امله د مرکزي، سويلي اسيا او دمنځني ختيز ترمنځ د ارتباطي پله رول لوبوي. د ډيورنډ کرښې کړکيچ يو نړيوال کړکيچ دی، ډيورنډ کرښې نړيوال امنيت او سولې ته ستر ګواښ رامنځ ته کړي دی. دافغانستان اوسني حکومت د نړۍ له مخور هيوادنو سره يوشمير د ستراتيجکو همکار يو ټرونونه لاسليک کړي دي. د ډيورنډ کرښه دافغانستان ددولتونو لخوا په رسميت پيژندل شوي نه ده دافغانستان په ستراتيجکو ټرونونوکې په دې اړه هيڅ نه دي ليکل شوي. دافغانستان او ګاونډي هيوادونوترمنځ د په رسميت پيژندل شويواو په رسميت نه پيژندل شويو پولو ته هيڅ اشاره نه ده شوي.
د افغانستان راتلونکي ملي دولتونه بايد د د ولسي جرګې او مشرانو جرګې په تالار کې په سمبوليک ډول د پښتونټر بيا يو والي رسيدو پوري دازاد قبايلي وګړو لپاره تبنې ځوکې بيلې کړي. د لر او بر افغانانو د بيا يوالي تګلاره د افغانستان د ملي دولت په اساسي قانون کې بايد وليکل شي. د افغانستان ملي بوديجه کې بايد دازاد قبايلي ولس لپاره مالي بوديجه غوره شي. دافغانستان په ملي راديوتلويزيون او ملي رسنيوکې د بيا يوالي لپاره ځانګړې خپرونې پيل شي، ددرست لر او بر افغانستان دوګړو د پوهاوي لپاره بيلا بيلې خپرونې بايد پيل کړل شي. د بيا يوالي په اړه دافغانانو ترمنځ ولسي عامه پوهونه ستونزې، د پښتنو دبيا يوالي ګټه، توان او ګواښونو باندې بايد بحثونه پيل شي، ترڅو د پښتانو افغانانو په منځ کې فکرآ د يوالي لپاره چمتووالي ومندل شي. د لوی افغانستان لپاره دوو ستراتيجکو ښارونو پيښور او کوټه سياسي ، اقتصادي او پوځي ارزښتونه او اقتصادي برخه کې دهند او عربي خليج سمندري ته لاره مونډل، په بحثونوکې دافغانستان سوداګريزه اقتصاد لپاره سمندري بندر ارزښتونه بايد وڅيړل شي. په دې برخه کې افغان ملي دولتونو ته ډير لاره پر مخ پر ته ده.
د لراوبر پښتنو افغانانو ترمنځ يوالي ، وروړګلوي ،قبيلوي پيژندګلوي او ديو واحد افغان ولس هويت تر هغې ډير ه ټينګ، پوخ ، ژور پرمختللي دی، تر کومه چې داسلام اباد پوځيان استخبارتيان او پښتون ضد قوتونو ته مالوميږي. د ډيورنډ پرکرښه دپيړويو پيړو څخه د کوچيانود تګ راتګ، ديرغګرو پوځونو په وړاندې ګډ جهاد،مقاومت ،دجګړو له ا مله په ميليونو کډوال او د طالبانو غورځنګ د تګ راتګ له امله دپښتنو ترمنځ کرښه عملا له منځه تللي ده. همدا نن هره ورځ پر دغه کرښه باندې په سلوګونه زره افغانان تګ راتګ کوي.
نن هرريښتني افغان، هره پوهه پښتنه په دې پوهيږي چې پښتونستان، پښتونخوا، افغانيه د افغانستان د ملي دولتونو نه بيليدونکي نه وريږيدونکي تاريخي خاوره ده. د ډيورنډ خونړي کرښې افغان ملي دولتونه، لر اوبر پښتانه، دپښتنو راتلونکونکي نسلونه د بقا يا پايښت له برخليک ټاکوونکي کړکيچونو سره مخامخ کړي دي. د پښتون افغان دولتي ولس اوسني ځيرلي جګړيزحالت، نه يووالي اود ستر پښتون ولس د ويش حالت، دپښتون ولس په ډول ډول فکرنو او ګوندو، ګډوډيوبوختيدو يو خورا مهم لامل همدغه د ډيورنډ استعماري سره کرښه ده. د ډيورنډ کرښه نه يواځې دافغانانوملي دولتونو بلکې دسيمې هيوادونواو دنړيوالو زبر ځواکونو له بنسټيزو ستونزو څخه يوه ستونزه ده. د پښتونو دغه ملي ستونزه پس له ډيرو کړونو څخه اوس ورو ورو خپل حل ته رانږدې کيږي، پښتون ولس ورور راويښ کيږي. ځکه پښتانه پوهيږي که د زماني توپانونو، يرغلګرو پوځونو مخې ته سره يو نشو نو بربادېږو.

پښتانه په دې هم پوهيږي چې د نړۍ دنن اوسبا هيڅ کوم ځواک او طاقت نه شي کولي چې پښتانه د کرښې ديخوا او هاخوا پښتانه په نوم سره بيل کړي. پښتانه د پنجاب تورو پوځونو ته لکه د انګريزانو، روسانو او نوروبهرنۍ يرغلګرو پوځونو په ځير ګوري.

پښتون دسيمې پنځوس ميليونه ستر ولس به هغه ورځ په پيغورنو کې مړ وي، که د پنجاب دوه مخې وکدارنو خوب ريښتيا شو، چې دوی به د تل لپاره د انګريزانو پر کرښه او پل د پښتنو په زړه او لوی کور کې د پښتنو تګ راتګ ،پاسپورتونو،ويزو، د پښتون توريالي او ننګيالي ولس د ويش کنټرول اوخارنه به کوي.

د دريمې برخي پای

افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ